# Appendix VI: Letter from the High Office of the Courts of the Afghanistan Islamic Emirate to Human Rights Watch

1

دافغانستان اسلامي امارت

دمحاکموعالي اداره

مکتوب نمبر:۱۹۰ تاریخ 10/ 10 /۱۴۴۱ هق

د هیومن رایټس واچ دبشر دحقوقو دڅار سازمان و دوو سوالونو( اول: دمحکمو سرپرستي څوک کوي. دوهم دکابل اداري سره د اړیکو لرلو په وجه یو څوک مجرم بلل کیږي که نه ؟) ته دامارت اسلامي د محاکمو عالي اداري جوابونه:

د اول سوال جواب:

د امارت اسلامي دټولو محکمو سرپرستي دمحاکمو عالي اداره کوي د محاکمو عالي اداره یوعمومي رئیس،دوه مرستیالان لري.(دمحاکمو لائحه :۵ مخ)

همدا رنګه د محاکمو عالي اداره اداري څانګه، مالي څانګه ، دتحقیق څانګه ، تعلیمي اداره ، او دتفتیش څانګه لري.(دمحاکمو لائحه :۱- ماده)

د دوهم سوال جواب:

هغه څوک چي دکابل اداري سره اړیکي لري دغه اړیکي دوه قسمه دي یو خلقي(قرابتي) اړیکي دي او بل دجاسوسی اړیکي دي

اول: دقرابتي اړیکو په وجه محکمه هیڅوک متهم او مجرم نه بولي نو که د یو چا ورور یا پلار یا بل قریب د کابل په اداره کي کار کوي دده ورور،زوی اوقریب دده د قرابت په وجه متهم او مجرم نه بلل کیږي لکه د قرآن کریم ددغه آیت مبارک څخه چي واضح معلومیږي. {وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى} [الأنعام: 164]

دوهم:که یو څوک د کابل اداري سره د جاسوسی اړیکي ولري نوکه محکمي ته دده جاسوسي دشرعي اصولو موافق ثابته سوه ابتدائیه محکمه دغه کس مجرم بولي او سزاء د شرعي اصولو سره سم ورته ټاکي تر هغه وروسته محکمه دغه سزاء ودغه مجرم ته ابلاغوي تر ابلاغ وروسته که چیري دغه مجرم دابتدائیه محکمي په فیصله قناعت نه درلودی نوموړي ته دځان څخه ددفاع ، مرافعه طلبی او دابتدائیه محکمي پر فیصله د اعتراض کولوحق ورکول کیږي موضوع یي مرافعه محکمي ته ځي مرافعه محکمه بیا دنوموړي ټوله دوسیه او دابتدائیه محکمي فیصله او دده اعتراضات پر فیصله باندي ګوري تر هغه وروسته که د ابتدائیه محکمي فیصله د شرعي اصولوسره برابره وه مرافعه محکمه یي تائیدوي تر تائید وروسته ودغه مجرم کس ته ابلاغوي تر ابلاغ وروسته که چیري دغه مجرم دمرافعه محکمي په فیصله قناعت نه درلودی نوموړي ته دځان څخه ددفاع ، تمیز طلبی او دمرافعه محکمي پر فیصله د اعتراض کولوحق ورکول کیږي موضوع یي تمیز ته ځي.

او که دابتدائیه محکمي فیصله دشرعي اصولو سره برابره نه وه مرافعه محکمه یي ردوي په دغه صورت کي چي مرافعه محکمي د ابتدائیه محکمي فیصله تائید نه کړه مرافعه محکمه

موضوع بیرته هماغه ابتدائیي ته استوي چي اول وار یي په نوموړي موضوع کي فیصله کړي وه اودفیصلي نقصانات ور ته ذکر کوي او دشرعي اصولوسره موافق دنقصاناتوڅخه دخلاصي فیصلي دکولو هدایت ورته کوي.

نوکله چي دوهمه فیصله ابتدائیه محکمي وکړه بیرته یي مرافعه محکمي ته استوي مرافعه محکمه بیا دابتدائیه محکمي دغه دوهمه فیصله ګوري نوکه د ابتدائیه محکمي دغه دوهمه فیصله د شرعي اصولوسره برابره وه مرافعه محکمه یي دغه فیصله تائیدوي تر تائید وروسته ودغه مجرم کس ته ابلاغوي تر ابلاغ وروسته که چیري دغه مجرم دمرافعه محکمي په تائیدي فیصله قناعت نه درلودی نوموړي ته دځان څخه ددفاع ، تمیز طلبی او دمرافعه محکمي پر فیصله د اعتراض کولوحق ورکول کیږي موضوع یي تمیز ته ځي.

او که د ابتدائیه محکمي دغه دوهمه فیصله دشرعي اصولو سره برابره نه وه مرافعه محکمه یي ردوي تر ردولووروسته مرافعه محکمه خپله د مجرم دموضوع تحقیق کوي وروسته خپله شرعي فیصله کوي.(دعدلي محکمو اداري اصولنامه ماده ۱۸۹ وتبصره)

دمرافعه محکمي تر فیصلي وروسته مرافعه محکمه خپله فیصله و مدعی علیه ته ابلاغوي نوکه یي دمرافعي په فیصله قناعت ونه کړی بیادځان څخه ددفاع او دتمیزطلبی حق ورکول کیږي موضوع یي تمیز ته ځي دتمیز عالي ریاست بیا دنوموړي ټوله دوسیه او دابتدائیه او مرافعه محکمو فیصلي او دده اعتراضات پر فیصلو باندي ټول ګوري.

تر کتلو وروسته که دابتدائیي او مرافعه محکمي په فیصلو کي کومه فیصله د شرعي اصولوسره برابره وه دتمیز عالي ریاست هغه فیصله تائیدوي ودغه متهم کس ته ابلاغوي.

او که دابتدائیه او مرافعه محکمو فیصلي دشرعي اصولو سره یوه هم برابره نه وه دتمیز عالي ریاست یي ردوي.

په دغه صورت کي چي د تمیز عالي ریاست یوه فیصله هم تائید نه کړه بیرته موضوع ومرافعي ته استوي اودمرافعه محکمي د فیصلي نقصانات ور ته ذکر کوي او دشرعي اصولوسره موافق دنقصاناتوڅخه دخلاصي فیصلي دکولو هدایت ورته کوي.

نوکله چي مرافعه محکمي دوهمه فیصله وکړه بیرته یي دتمیز عالي ریاست ته استوي دتمیز عالي ریاست بیا دمرافعه محکمي دغه دوهمه فیصله ګوري نوکه دمرافعه محکمي دغه دوهمه فیصله د شرعي اصولوسره برابره وه دتمیز عالي ریاست دغه فیصله تائیدوي او که دشرعي اصولو سره برابره نه وه بیایي ردوي.

په دغه صورت کي چي د تمیز عالي ریاست دمرافعه محکمي دوهمه فیصله تائید نه کړه دتمیز عالي ریاست نوموړي موضوع دبل ولایت و مماثلي مرافعه محکمي ته استوي اوشرعي اصولوسره موافق دفیصلي دکولو هدایت ورته کوي تر هغه وروسته مماثله مرافعه محکمه خپله د متهم کس دموضوع تحقیق کوي وروسته خپله شرعي فیصله کوي او متهم کس ته یي اوروي نوکه دغه متهم کس دمماثلي مرافعي په فیصله قناعت ونه کړی بیادځان څخه ددفاع او دتمیزطلبی حق ورکول کیږي موضوع یي تمیز ته ځي.

دتمیز عالي ریاست بیا دنوموړي کس ټوله دوسیه او دابتدائیه او مرافعه محکمو فیصلي او دده اعتراضات پر فیصلو ګوري نوکه د مماثلي مرافعه محکمي فیصله د شرعي اصولوسره برابره وه دتمیز عالي ریاست دغه فیصله تائیدوي.

او که دشرعي اصولو سره برابره نه وه بیایي ردوي په دغه صورت کي چي د تمیز عالي ریاست دمماثلي مرافعه محکمي فیصله تائید نه کړه د تمیز عالي ریاست پخپله دموضوع تحقیق کوي وروسته خپله شرعي فیصله کوي او متهم کس ته اوروي.

(دعدلي محکمو اداري اصولنامه ماده ۲۶۳،۲۲۴)

وروسته دتمیز دعالي ریاست خپله فیصله دمحاکمو عالي اداري ته استوي د محاکمو عالي اداره دخپل صلاحیت سره سم ددغه متهم کس سزاء کمولای او زیاتولای سي.

نو که دمحاکموعالي اداري دکم یازیات تعزیر( حبس) یا دایله کولو فیصله وکړه هغه فیصله اجراء کیږي.

پورته ذکر سوی تفصیل ټول په هغه صورت کي دی چي ابتدائیه محکمه ماسوا دقتل څخه د حبس یا بل تعزیر فیصله وکړي.

او که ابتدائیه محکمي پر دغه متهم کس د قتل فیصله وکړه نو که دغه کس قناعت وکړي او که قناعت ونه کړي په دواړو صورتونو کي دغه فیصله مرافعه محکمي ته استول کیږي مرافعه محکمه ټوله دوسیه او دابتدائیه محکمي فیصله ګوري تر کتلو وروسته که مرافعه محکمي دابتدائیه محکمي فیصله تائید کړه تر هغه وروسته ټوله دوسیه دتمیز عالي ریاست ته استول کیږي.

دتمیز عالي ریاست بیاټوله دوسیه ، دابتدائیه او مرافعه محکمو فیصلي ګوري تر کتلو وروسته که دتمیز عالي ریاست دابتدائیه او مرافعه محکمو فیصلي تائید کړي بیا ټوله دوسیه دامارت دمشرتابه مقام ته استول کیږي که دامارت دمشرتابه مقام د ابتدائیي او مرافعي او دتمیز دري سره فیصلي تائید کړي بیا اجراء کیږي.

او که د امارت د مشرتابه مقام دقتل فیصله په حبس یا بل تعزیر سره بدله کړه بیا دغه دحبس فیصله اجراء کیږي .(دمحاکمو لائحه ماده ۲۷ ، دمشرتابه فرمان )

دغه داسلامي امارت د محاکمو طرز عمل دی دمجرمینو په باب کښي چي د قرآن کریم ، سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم او اقوال دسلف صالحینو په رڼا کي جوړ سوی دی.

یادونه:د امارت د مشرتابه مقام دبندیانو و ټولو مسؤلینو ته یو فرمان صادر کړی دی چي بندي ته به تعذیب نه ورکوئ بنه چلند به ورسره کوئ دلوږي ،تندي ، لمانځه ، اوداسه ، مریضی ، یخ او ګرمی خیال به یي ساتئ سپکاوی اوبي قدري به یي نه کوئ دسزاء مرجع یي محکمه ده د بند دمودي تر پوره کولو وروسته به یي په بند کي نه ساتئ.

(دمشرتابه فرمان نمبر ۱۰ ج:۵)

والسلام علی من اتبع الهدی

دمحاکمو عالي اداره